# پښتونخوا قومي اېوارډ او نشتر هال

"پښتون" رپورټر

د پښتونخوا قومي اېوارډ دوېم تقریب څلور کاله پس په نشترهال کښې وشو. د پښتونخوا ادبي ثقافتي ملګرو له خوا دغه تقریب په وړومبي ځل په باچاخان مرکز کښې په ۲۰۰٤ کښې شوے او دا په ۲۰۰۸ کښې وشو. هغه وخت نشتر هال د دغسې تقریباتو دپاره بند کړے شوے ؤ.

په دې تقریب کښې د اې این پي صوبائي صدر او د امن سفیر افراسیاب خټک نه علاوه د اطلاعاتو وزیر میا افتخار حسېن، د ثقافت او لوبو وزیر عقیل شاه، د سکولز او لیټرېسي وزیر سردار حسېن بابک، د سائنس او ټیکنالوجۍ وزیر ایوب اشاړے، د پېښور هائي کورټ بار کونسل او ملګري وکیلانو صدر لطیف اپریدے، د اې این پي صوبائي جنرل سکرټري تاج الدین خان، د اې این پي صوبائي د اطلاعاتو سکرټري ارباب طاهر خلیل ، د پي ټي وي پېښور سنټر جنرل منېجر فرمان الله جان او نورو ګڼو مشرانو شرکت وکړو. په دې تقریب کښې د صوبې د وزیراعلي امیر حېدر خان هوتي او پښتون مشر اسفندیار ولي خان متوقع شرکت د یوې بیمارۍ په وجه ممکن نۀ شو.

د پښتونخوا ادبي ثقافتي ملګري تنظیم جنرل سیکرټري فن کار او سندرغاړي زېب خان سپاس نامه پېش کړه او پکښې ئې د فنکارانو دپاره د باچاخان د نوم د یوې کالونۍ جوړولو ، په ملازمتونو کښې د فنکارانو دپاره ټاکلې برخه، په ثقافتي وفدونو کښې د فنکارانو نمائندګي او د فنکارانو د بچو دپاره د علاج معالجې غوښتنه وکړه. هغوي د اباسین چېنل دپاره هم غوښتنه لرله.

افراسیاب خټک په خپل مختصر خو جامع تقریر کښې د ګندهاره آرټ سره د پښتنو د وابستګۍ او پېژندګلو او د هغوي د زرګونه کاله مخکښې د یو دغسې کلچر پېداکولو ذکر وکړو. خټک صېب ووې چې پښتنو بدها لیدلے نۀ ؤ خو د دې نه خبر ؤ چې بدها او د بدها تعلیمات د امن په نوم دي او انسان دوست نظریات دي. هم دغه نظریات ئې په تصویري شکل کښې په ګندهارا آرټ کښې محفوظ کړل. خټک صېب ووې چې د دې صوبې د ټولو اولسونو ژبې زمونږ دپاره د یوې ګلدستې حېثیت لري. د دې ټولو ژبو وده زمونږ په غاړه ده ځکه چې هم دا زمونږ د دې صوبې او پښتون قام اثاثه او شتمني ده. خټک صېب د کلچر د ودې دپاره د یو ډائریکټرېټ ذکر وکړو چې دا به په یو ځو ورځو کښې کار شروع کړي.

د ثقافت او لوبو وزیر سېد عاقل شاه هم په خپلو خبرو کښې د یو ثقافتي ډائریکټرېټ د جوړېدو زېرے پېش کړو. هغۀ ووې چې پنځۀ کاله

پس مونږ نشترحال آزاد کړو چې پکښې ادبي او ثقافتي پروګرامونه جاري وساتلے شي. هغۀ ووې چې دې خاورې ډېر لوئے لوئے ثقافتونه پېدا کړي دي او ډېرې لوئې لوئې ادبي ثقافتي هستۍ ئې پېدا کړې چې مونږ پرې فخر کوو. هغه ووې چې مونږ به د ثقافت د ودې دپاره د سازګار ماحول پيدا کولو دپاره يو ټاسک فورس جوړوو او چې دغسې د دې په لاره کښې آئنده هېڅ خنډونه پېدا نۀ کړے شي.



د اطلاعاتو وزير ميا افتخار حسېن ووې چې دا عجيبه ده چې د اباسين چېنل اجرا کېدونکې وه خو ځۀ پټو لاسونو دغه منصوبه په شاه کړه. اوس مونږ وايو چې دغه چېنل دې روان کړے شي. په دې حقله هغۀ ووې چې کۀ وفاقي حکومت دغه کارته غاړه نۀ ږدي نومونږ له دې اجازت راکړي چې مونږه ئې د صوبې د طرف نه وکړو. ميا صاحب په ډېره دردمنه لهجه کښې وو چې د پښتنو کلچر د يوې ارادې سره په کلونو کلونو مسخ کړے شو. دکتاب او قلم په ځائے د خلقو لاسو کښې کلاشنکوف ورکړے شو. د رباب او شپېلۍ په ځائے ورته دستي بمونه او خودکش جېکټونه ورکړے شو. مونږ خو د باچاخان پېروکاران يو او تر څو چې راکښې ژوند او ساه وي د امن دپاره به جدوجهد کوو او د خپل پښتون کلچر پيدا کېدو هڅې به کوو، کوم چې دامن ضمانت دے.

افراسياب خټک صېب د سپاسنامې په جواب کښې د اميرحېدرخان هوتي له خوا اعلان وکړو چې په دې کښې هېڅ داسې مطالبه نشته چې هغه زمونږ او دوي د شته جذبو او غوښتنو ترمنځه دېوال وي. دا ټولې مطالبې د منلو وړ دي او مونږ به ئې سرته د رسولو کوشش کوو. په دغه تقريب کښې چې د سندرغاړې په حېثيت نازيه اقبال راوغوښتې شوه نو هغه اول ستېج ته راغله او په ډېر دردمن آواز ئې ووئيل چې زمونږ يو سينئير فنکار اکبر حسېن دا وخت د ډېرې بې وسۍ په حالت کښې په خېبر ټيچنګ هسپتال کښې پروت دے بايد چې د هغۀ مناسب علاج په سرکاري سطح وشي. د هغې په جواب کښې د وزير اعلي اميرحېدر خان هوتي له خوا د خټک صېب پېغام جهانګير عادل پېش کړو او هغۀ ووې چې د اکبر حسېن علاج به په سرکاري سطح کولے شي، دې اعلان کۀ يو طرف ته د نازيه اقبال په مخ د ښۀ تاثراتو پرېوتو يو کار وکړو نو بل طرف ته د تقريب په شريکو خلقو کښې د دې قدم ډېره ستائنه وکړې شوه.

په دې تقريب کښې پنځلس شيلډ او پنځۀ کم څلوېښت اېوارډونه اعلان کړے شو. کومو کسانو ته چې د پښتونخوا اېوارډ په نوم يادګاري شېلډونه ورکړے شو په هغې کښې د هندکو شاعر او اديب مختيار علي نير، د اې وي ټي خېبر چېئرمېن کامران راجا او د هغې جنرل منېجر شمشاد او

کمپوزر ائیوین شفیع، د افغانستان صدر حامد کرزے صېب، افراسیاب خټک صېب، تاج الدین خان، میا افتخار حسین، سېدعاقل شاه، سردار حسېن بابک، فوک سندرغاړي زرڅانګه، جانان بنګش صېب، سندرغاړے عباس ګل ډهروي، اسماهیل ګوهر بفه هزاره او بدر منیر نومونه شامل دي.

د انساني همدردۍ او فلاح و بهبود دپاره اتفاق کلډني سنټر ته ایوارډ ورکړے شو، په صحافت کښې محترم رحیم الله یوسفزي ته پښتونخوا ایوارډ ورکړے شو. د کالم نګار په حېثیت ډاکټر عنایت الله فیضي( چې د چترال نه راغلے ؤ) پښتونخوا قومي ایوارډ ورکړے شو. د بهترین ادب دپاره د اصغر لالا انتخاب شوے ؤ. د بهترینې شاعرۍ دپاره د اندېش شمس القمر نوم تجویز شوے ؤ. د ډرامه نګار په حېثیت عمر ناصر او د مشر سندرغاړي په حېثیت ماه جبین قزلباش د ایوارډ حق داره ګرځولې شوې وه. د خوږو او ښکلو خبرو دپاره هارون رشید د ښه پروډیوسر ایوارډ، عزیز اعجاز او مجیدالله خلیل ترلاسه کړل. د بهترین هندکو آرټیسټ دپاره ارشد عباسي د سینئر سندرغاړي دپاره هارون بادشاه ته ایوارډ ورکړے شو.

د نوي سندرغاړي په حېثیت ستاره یونس ته ایوارډ ورکړے شو. معلومه دې وي چې د دې سندرغاړي ژبه پښتو نۀ ده خو چې پښتو وائي نو هېڅوک نۀ شي وئیلے چې دا پښتنه نۀ ده، یا یې مورنۍ ژبه پښتو نۀ ده او دا راغلې هم پښتنو ته ده چې په پښتو کښې خپل آواز پېش کړي او واقعي دا دغسې انعام او حوصله افزائي جوګه هم ده.

د مزاحیه اداکار ایوارډ اسماعیل شاه ترلاسه کړو، د صداکارۍ دپاره د مردان ظاهرالله د ښۀ کمپئیر ایوارډ ارشد سلیم ته ورکړے شو.

په دې تقریب کښې د خیال محمد نه علاوه ګلزار عالم هم موجود ؤ. خیال محمد دپاره به زۀ دومره ووایم چې وائي:

د ښــۀ خــوئے او ښــۀ خصــلت لـــه برکتــه
ګـــران یـــوازې پـــه مانـــۀ پـــه هـــر چـــا ګـــران دے

نغمې چې چا پېش کړې په هغې کښې سینئیر سندرغاړے ګلریز تبسم، ماه جبین قزلباش، نازیه اقبال، خالد ملک، زیب خان، جانس خان، شوکت محمود، وصال خیال، نور جهان، سلمٰي ناز او ستاره یاسمین د کمپئرانو ډېرې ښې ښې جوړې مقررې کړې وې. په دغو کښې ارشد حسېن، شازمه حلیم، مینه شمس، عمر ګل، خالد یاسمین او ارشد سلیم شامل وو. دغه تقریب په سر سر کښې خو د څۀ حده پورې د تاخیر او سست رفتارۍ ښکار شوے ؤ چې سعدالله جان برق ترې په نیمه کښې لاړو خو هغه لکه چې په دې غور نۀ ؤ کړے چې په دې تېرو پنځۀ کالو کښې د سټېج خلقو هم په سټېج کار نۀ ؤ کړے او چلېدۀ به ئې یو وخت غواړي. بیا هم کۀ مونږ د دغو خلقو دغه لږې لږې کوتاهۍ نظر انداز کړو نو دوي یو داسې پروګرام ضرور کړے دے. په کوم چې ئې نۀ یوازې د نشترهال نه دوړې څنډ وهلې بلکې د پښتنو د ذهنونو نه ئې هم دوړې پاکې کړې او یو نوي ژوند ته ئې بېدار کړۀ.

اے د ګلو لښتې ستا ځواني دې تل رنګینه وي
ما غوندې ډېر سترې به ئې سیوري ته دمې کوي